د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 435**

(19 جوزا – 25 جوزا 1403 هـ ش)

## د نړۍ سره د اسلامي امارت تعامل: د دوحې درېیمه ناسته




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د نړۍ سره د اسلامي امارت تعامل: د دوحې درېیمه ناسته ........................................... 3
- د دوحې لومړۍ او دویمه ناسته او موخې یې ..................................................... 4
- د غرب له لوري د اسلامي امارت سره د ډیپلوماتیکو اړیکو د رامنځته کېدو په اړه امریکایي پالیسي څه ده؟ ........................................................................................ 5
- د دوحې درېیمه ناسته: د اسلامي امارت پالیسي باید څه وي؟ ........................................ 6
- پایله ......................................................................................... 8
- وړاندیزونه ..................................................................................... 8
- مأخذونه ...................................................................................... 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د نړۍ سره د اسلامي امارت تعامل: د دوحې درېیمه ناسته

**سریزه**

په ۱۴۰۰ هـ.ل. کال کې د اسلامي امارت د بیاواکمنۍ وروسته د سیمې او نړۍ هېوادونو له اسلامي امارت سره د تعامل په موخه له دوه ډوله ډیپلوماسۍ څخه ګټه پورته کړه چې یو یې په مستقیم ډول د دوه اړخیز تعامل ډیپلوماسي ده او بل یې د څو اړخیز تعامل ډیپلوماسي دي، په دې معنی چې د سیمې ځینو هېوادونو لکه: چین، ترکیه، ایران، روسیه، مرکزي اسیا هېوادونه، پاکستان، مالیزیا، اندونیزیا او نور... په مستقیم ډول له اسلامي امارت سره تعامل پیل کړ او اړیکې یې ورسره ټینګې کړې او د سیمې او نړۍ ځینو نورو هېوادونو د مستقیم دوه اړخیز تعامل څخه ډډه وکړه او د سازمانونو او یا هم نړیوالو غونډو له لارې یې هڅه وکړه چې له اسلامي امارت سره تعامل وکړي او اړیکې ورسره ټینګې کړي، چې په دې برخه کې ټول غربي هېوادونه چې په سر کې امریکا متحده ایالات دي، شامل دي.

امریکا متحده ایالات د اسلامي امارت سره د اړیکو د رامنځته کولو په دوه لارې کې ده، یعنې نه ورسره په مطلق ډول اړیکې پرې کولای شي، ځکه د افغانستان پورې یې ځینې ګټې تړلې دي او د افغانستان جیوپولټیک او جیواکانومیک موقعیت ورته مهم دی او نه یې هم تر هغې پورې په رسمیت پېژندلی شي تر څو یې چې پر اسلامي امارت خپلې غوښتنې نه وي منلې او یا حد اقل له افغانستان څخه په امنیتي برخه کې ډاډه نشي، نو له همدې امله یې درېیمه لاره خپله کړې ده او هغه دا چې له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي او د ښکېل پاتې کېدو لاره یې څو اړخیزه ډیپلوماسي ده، یعنې د دوحې په څېر ناستو له لارې او یا هم د ملګرو ملتونو له لارې غواړي چې له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي او د مذکراتو له دې پلیټ فارم څخه داسې استفاده وکړي چې پر اسلامي امارت خپل شرطونه ومني او دواړه هېوادونه یوې پایلې ته ورسېږي. البته یادونه باید وکړو چې دواړه هېوادونه یو او بل ته اړتیا لري، ځکه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې قضیه ټوله د امریکا متحده ایالاتو پورې تړلې ده، نو اسلامي امارت باید د امریکا متحده ایالاتو سره د تقابل پر ځای له تعامل څخه کار واخلي تر څو د رسمیت پېژندنې په لاره کې خنډونه په ختمېدو شي.

دا تحلیلي لیکنه د دوحې په درېیمه ناسته کې د اسلامي امارت په ګډون او نه ګډون او له امریکا متحده ایالاتو سره پر تعامل راڅرخېږي او په دې اړه مو د هېواد د ځینو مخورو، پوهنتون استادانو، څېړونکو، دیني علماوو، قومي مشرانو او د اسلامي امارت د ځینو غړو نظرونه هم اخیستې دي، چې په پایله کې مو د هغوی د نظریاتو په رڼا کې اسلامي امارت ته یو پشنهادي پالیسي طرحه کړې ده، چې دلته یې تاسو لوستلی شئ.

## د دوحې لومړۍ او دویمه ناسته او موخې یې

د دوحې لومړۍ ناسته د ۲۰۲۳ز. کال د مې په لومړۍ نېټه د ملګرو ملتونو له لوري راوبلل شوه،[1] د دې ناسته نه مخکې د همدې کال په جنورۍ میاشت کې د ملګرو ملتونو ځینو استازو کابل ته سفر کړی و، تر څو د اسلامي امارت له مشرانو سره د ښځو د حقوقو په ځانګړې ډول د زده کړو او کار حقوقو په اړه خبرې اترې وکړي او د همدغه سفر پایله د دوحې لومړۍ ناسته شوه.

د دوحې په لومړۍ ناسته کې اسلامي امارت ته بلنه نه وه ورکړل شوې او پرځای یې د افغانستان په استازولۍ ځینو مدني فعالانو، د ښځو استازو، د رسنیو کارکوونکو او پخوانیو سیاسیونو ته بلنه ورکړل شوې وه. په دې ناسته کې د ۲۵ هېوادونو استازي هم رابلل شوي وو چې د امریکا متحده ایالاتو ترڅنګ په کې چین، روسیې، پاکستان او ځینو اروپایي هېوادونو هم ګډون کړی و.

لومړۍ ناستې لاندې موخې درلودې:

۱- په افغانستان کې د بشري حقوقو پر وضعیت بحث؛

۲- د همه شمول حکومت پر رامنځته کېدو بحث؛

۳- د تروریزم خلاف د مؤثرې جګړې پر کړنلارې بحث؛

۴- د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه.

د دوحې دویمه ناسته د ۲۰۲۴ز. کال د فبرورۍ پر ۱۸مه نېټه د ملګرو ملتونو له لوري راوبلل شوه. د دې ناسته اصلي موخه د اسلامي مارت سره د نړۍ د هېوادونو او په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالاتو ښکېلتیا او تعامل ته لاره پرانېستل وو له همدې امله په دې ناسته کې اسلامي امارت ته هم د ګډون بلنه ورکړل شوه،[2] خو اسلامي امارت د ګډون لپاره لاندې شرطونه وړاندې کړل:

۱- د افغانستان په استازولۍ باید یوازې اسلامي امارت ګډون وکړي او نور موازي جهتونه باید دعوت نشي؛

۲- اسلامي امارت ته دې د حکومت په استازولۍ بلنه ورکړل شي، نه د یو لوري په توګه؛

۳- اسلامي مارت ته دې د وینا ځانګړې حق ورکړل شي او د ملګرو ملتونو چارواکو سره دې ځانګړې ناستې ولري.

دا هغه درې عمده شرطونه وو چې د ملګرو ملتونو له لوري ونه منل شو، ځکه د ملګرو ملتونو سرمنشي وویل چې دا شرطونه که موږ ومنو، نو دا د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په معنی دي.[3]

## د غرب له لوري د اسلامي امارت سره د ډیپلوماتیکو اړیکو د رامنځته کېدو په اړه امریکایي پالیسي څه ده؟

په غرب (اروپا او امریکا) کې د اکثرو هېوادونو د بهرنیو سیاستونو په تطبیق کې امریکا متحده ایالات مهمه ونډه او رول لري او د غربي هېوادونو سیاستونه په ځانګړي ډول د شرقي هېوادونو په اړه د امریکا متحده ایالاتو له سیاستونو څخه اغېزمن دي او همدا لامل دی چې د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو دریځ د اکثرو غربي هېوادونو دریځ دی او تر څو چې امریکا متحده ایالاتو د اسلامي امارت سره د ډیپلوماتیکو اړیکو جوړېدو ته اقدام نه وي کړی، تر هغې هېڅ غربي هېواد هم نه کوي، نو دا چې د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو دریځ د غرب دریځ دی، نو ویلای شو چې اسلامي امارت سره د ډیپلوماتیکو اړیکو د رامنځته کېدو په اړه امریکایي پالیسي جوړونکي په دريو ډلو ویشل شوي دي: لومړی نظر دا دی چې امریکا متحده ایالات باید له اسلامي امارت سره ډیپلوماتیکې اړیکې رامنځته کړي او دوی لاندې دلایل وړاندې کوي:

۱- که امریکا متحده ایالات له اسلامي امارت سره ډیپلوماتیکې اړیکې رامنځته نه کړي او اسلامي امارت په مطلق ډول په انزوا کې پرېږدي، نو اسلامي امارت به د بایللو لپاره هېڅ ونلري او دا کېدای شي د امریکا متحده ایالاتو امنیتي ننګونې له ګواښ سره مخامخ کړي، ځکه کېدای شي اسلامي امارت یو ځل بیا له القاعدې او نورو نړیوالو شبکو سره اړیکې ټینګې کړي او په خپله خاوره کې ورته پټنځای ورکړي. د دې ترڅنګ کېدای شي بشري حقوقو له لا سختو ننګونو سره مخامخ شي.

۲- له اسلامي امارت سره چین، روسیه او ایران نږدې اړیکې لري او که امریکا متحده ایالات هم ډیپلوماتیکو اړیکو رامنځته کېدو ته اقدام ونکړي، نو دا سیمه به په مطلق ډول له لاسه ورکړي.

۳-د نشه یي توکو د کرلو او قاچاق مخنیوي په برخه کې اسلامي امارت مؤثر ګامونه اخیستي او که اسلامي امارت پوه شي چې له امریکا متحده ایالاتو سره یې اړیکې نورې نه جوړېږي، نو کېدای شي دوی د نشه یي توکو د کر او قاچاق له لارې پیسې ګټلو ته کار ووایي او دا کار د امریکا متحده ایالاتو او د هغوی اروپایي متحدینو په ګټه نه دی او دلیل یې دا دی چې له یوې خوا له افغانستان څخه نشه یي توکي اروپا ته قاچاق کېږي او له بلې خوا امریکا متحده ایالات فکر کوي چې که د نشه یي توکو کر ازاد پرېښودل شي، نو دا به د القاعدې، داعش او ځینو نورو ډلو د تمویل یوه سرچینه شي او دا به د امریکا متحده ایالاتو داخلي امنیت او سیمه ییزو امنیتي ګټو ته ګواښ پیداکړي.[4]

دویم نظر دا دی چې امریکا متحده ایالات باید له اسلامي امارت سره هېڅ ډول اړیکې ونلري او پر هغوی لا بندیزونه سخت کړي، د دوی دلیل دا دی چې اسلامي امارت یوه ایډیالوژیکې ډله ده او دوی به هیڅکله له خپلو دریځونو تېر نشي، دوی فعلاً چې لا په رسمیت نه دي پېژندل شوي، نجونې تعلیم او تحصیل ته نه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پرېږدي، همه شموله حکومت نه جوړوي او بل هيڅ افغان ته په سياسي پروسه کې ځای نه ورکوي، نو دا که په رسميت وپېژندل شول، نو دوی به بشري حقوقو نقض لا ډېر کړي او يو ګوندي نظام به ورسره نور هم پیاوړی شي.[5]

درېيم نظر دا دی چې له اسلامي امارت سره دې رسمي ډيپلوماتيکې اړيکې نه رامنځته کېږي او نه دې هم په مطلق ډول په انزوا کې پرېښودل کېږي، بلکې تر هغې چې اسلامي امارت خپل درېځونو کې بدلون راولي او د دوی غوښتنې مني او د نظام په اصلاح کې شکلي بدلونونه راوړي، تر هغې دې ورسره د ښکېلتيا او تعامل نور چېنلونه خلاص کړي او تراوسه همدا درېيم نظر د پاليسۍ مرکزي تيوري ده او د همدې تيورۍ په چوکاټ کې د دوحې غونډې ترتيبېږي چې راتلونکې درېيمه ناسته به د ۲۰۲۴ز. کال د جون پر ۳۰مه نېټه پيل شي، دا چې اسلامي امارت د دې غونډه کې ګډون وکړي او که نه؟ په ټوله کې د امريکا متحده ايالاتو او نړيوالې ټولنې سره څه ډول تعامل وکړي؟ او د نړۍ سره د متوازنو سياسي اړيکو د رامنځته کېدو لپاره کومه تګلاره خپله کړي؟ دلته پرې لنډ بحث کوو.

## د دوحې درېيمه ناسته: د اسلامي امارت پاليسي بايد څه وي؟

تمه ده چې د دوحې درېيمه ناسته د روان ۲۰۲۴ز. کال د جون پر ۳۰مه نېټه پيل او د جولای په لومړۍ نېټه پای ته ورسېږي. په دې ناسته کې ملګرو ملتونو اسلامي امارت ته هم بلنه ورکړې ده او د دې ناستې د تنظيم او په دې اړه د اسلامي امارت سره د خبرو اترو په موخه د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستياله (Rosemary Dicarlo) د ۲۰۲۴ز. کال د مې پر ۱۸مه نېټه کابل ته راغلې وه،[6] خو اسلامي امارت بيا هم د دوحې د دويمې ناستې پرمهال ذکر شوي شرطونه ور وړاندې کړل او نوموړې پرته له کومې مشخصې پايلې ترلاسه کولو ستنه شوه. د اسلامي امارت د دې ډول درېځ نرمولو په موخه تېره اونۍ د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې (Roza Otunbayeva) کابل ته راغله او د بهرنيو چارو وزير اميرخان متقي سره يې وليدل. د دې ناستې اصلي موخه د دوحې د اجنډا د نهايي کولو په موخه د اسلامي امارت وروستی درېځ روښانه کول وو. متقي ورته ويلي چې اجنډا بايد داسې ترتيب شي چې ټولو اړخونو ته د منلو وړ وي، موږ ګډون ته اماده يو، خو زموږ شرطونه بايد ومنل شي او کله چې د ناستې نهايي اجنډا اعلان شي له هغې وروسته به موږ خپل نهايي تصميم اعلان کړو.[7]

دا چې اسلامي امارت په دې ناسته کې ګډون وکړي او که نه؟ له امريکا متحده ايالاتو او غرب سره څه ډول تعامل وکړي؟ په دې اړه مو ځينې پوهان، څېړونکي، د پوهنتون استادان او علماء کرام پوښتلي چې د هغوی د نظرياتو له تحليل وروسته ويلی شو چې د نړۍ سره د اړيکو د جوړولو او تعامل لپاره د اسلامي امارت تګلاره بايد په لاندې حقايقو ولاړه وي:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- د نړۍ له ټولو هېوادونو او په ځانګړي ډول د لويو ځواکونو سره متوازنې اړيکې درلودل د افغانستان يوه اړتيا ده او له دې اړيکو پرته په نړۍ او سيمه کې افغانستان خپلې ګټې، حيثيت او مؤثريت نه شي ساتلی.
- د دې اړيکو د رامنځته کولو لپاره که اسلامي امارت د کمزوري دريځ څخه مخته ولاړ شي، نو د نړۍ هېوادونه او په ځانګړي ډول ستر ځواکونه به اسلامي امارت د هغه څه په منلو اړ کړي چې هغه به د افغانستان او سيمې په ګټه نه وي.
- که اسلامي امارت د قوي دريځ څخه د اړيکو د رامنځته کولو لپاره مخته ولاړ شي، نو بيا به په دې وتوانېږي چې د افغانستان ملي ګټې خوندي کړي او څوک به پرې د فشار د راوړلو هڅه هم نه کوي. د قوي دريځ څخه مو موخه دا ده چې هغه ستونزې چې په واقعيت کې د افغانستان د ملت ستونزې دي او ملت يې رفع کول غواړي، ټوله ګټه يې هم حاکم نظام او ملت ته رسېږي، په حل کولو يې د ملت او حاکم نظام ترمنځ فاصلې له منځه ځي، خو امريکامتحده ايالات او نوره غربي نړۍ يې د فشار د وسيلې په توګه کاروي او په ميډيا کې ترې د اسلامي امارت د بدنامولو لپاره ناوړه ګټه اخلي او د خپلو اصلي موخو د لاسته راوړلو لپاره يې کاروي، دا ستونزې بايد رفع کړی شي، تر څو چې دا ستونزې له منځه ولاړې نه شی په هر فارمټ کې چې اسلامي امارت ګډون کوي د فشار لاندې به ګډون کوي او دا هېوادونه به پرې د پردې تر شا خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د فشار د وسيلې په توګه کار اخلي.

اسلامي امارت د يو پياوړي بهرني سياست لپاره اړ دی چې په داخل د هېواد کې ځينې تعديلات او اصلاحات راولي، تر څو د بهرني سياست په هر دريځ کې ولسي ملاتړ له ځان سره ولري او په دې تعديلاتو او اصلاحاتو کې د اتباعو بنسټيز حقوق او د نظام د ساختار او بنې مشخصول په ځانګړي ډول شامل دي او دا کار هغه مهال شونی دی کله چې موږ يو اساسي قانون ولرو او په هغې کې د اتباعو ټول حقوق مشخص کړو او د نظام داسې ساختار او بڼه په کې تعريف کړو چې په يو ډول نه يو ډول ولس د هغې په ټاکنه کې دخيل وي او ولس دا نظام په تمامه معنی خپل وګڼي، نو که دا اصلاحات راشي، نو د نړيوالو ټولو فشارونو او بهانو مخه به مو ډب کړي وي او هلته به بيا زموږ دريځ او نظر په قوي موقف کې وي. اوسمهال کله چې اسلامي امارت په نړيواله سطحه څومره هم قوي او منطقي دريځ ونيسي، نو له دې امله ضعيف معلومېږي چې نړيوال ورته وايي تاسې نجونې مکتب ته نه پرېږدئ، کار ته يې نه پرېږدئ، نظام بڼه مو نامعلومه ده او سيستم مو غير منظم دی، خو کله چې دا داخلي اصلاحات راغلل او د نړيوال دا بهانې او د فشار وسايل مو ختم کړل، نو بيا په نړيوال ستېج زموږ نظر او دريځ د لوړ او قوت موقف نه وي.

- دي اصولو ته په کتو د دوحې په اوسنۍ غونډه کې دې په هغه شرطونو باندې اصرار وشي چې د افغانستان ملي حیثیت ساتي، ولو که دا په اوسنۍ ناسته کې د ګډون مانع هم وګرځي، خو د خبرو اترو چینلونه باید پرانیستي پاتې شي او قضیه باید داسې مرحلې ته و نه رسېږي چې دا چینلونه په بشپړ ډول بند شي، ځکه د اسلامي امارت حریفان همداسې یو حالت رامنځته کول غواړي.
- بهرنۍ سیاست د داخلي حالاتو انعکاس دی او ټول نظام یې په تشکیل کې ونډه لري، د بهرنیو چارو وزارت یې یوازې تمثیلونکی دی، نو اړتیا ده چې ژر تر ژره د قوت هغه حالت ته مؤثر ګامونه پورته کړو چې مخکې مو ورته اشاره وکړه او که دغه ډول حالت ته ورسېږو یعنې داخلي ستونزې حل کړو، نو موږ به د قوت حالت ته رسېدلي یو او له نړیوالو سره به له قوي دریځ څخه غږېږو، د هغوی د فشار زیاتې وسیلې به مو لمنځه وړي وي او بیا به هېوادونه اړ وي چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني او تعامل ورسره وکړي.

## پایله

د دوحې ناستې مهمې دي او دا له اسلامي امارت سره د نړۍ او په ځانګړي ډول د غرب د ښکېلتیا او تعامل یوه وسیله ده. د دوحې دربیمه ناسته د اسلامي امارت لپاره یو فرصت دی تر څو د غرب سره د اړیکو د نږدیکت لپاره ترې کار واخلي، ځکه د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې قضیه تر ډېره امریکایانو په لاس کې نیولې او که له دوی سره د اسلامي امارت اړیکې ښې نشي، نو د رسمیت پېژندنه قضیه به له نامعلوم سرنوشت سره مخامخ شي.

د نړۍ سره د تعامل لپاره باید اسلامي امارت له قوي موقف څخه خبره مطرح کړي او قوي موقف هغه مهال رامنځته کېږي کله چې د نړیوالو سره پر اسلامي امارت د فشار وسایل ختم یا کم شي او اسلامي امارت کولای شي چې په داخلي سیاست کې د ځینو تعدیلاتو او اصلاحاتو راوستلو وروسته د فشار د دې ډول وسایلو په کمولو کې مرسته وکړي او بیا له یو قوي دریځ څخه له نړیوالو سره مخکې لاړ شي.

## وړاندیزونه

۱- اسلامي امارت دې د دوحې دربیمه ناسته د یو فرصت په توګه وګڼي او خپل ځینې هغه شرطونه چې د نظام ارزښتونه په کې نه پیمال کېږي، تېر شي او په دې ناسته کې دې ګډون وکړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۲- داخلي سیاست د بهرني سیاست لپاره د ملا د تیر حیثیت لري چې بهرنی سیاست پرې تکیه کوي، نو اسلامي امارت دې ځینې هغه داخلي سیاستونه تعدیل او اصلاح کړي چې له شرعي اړخه ستونزه ونلري او کولای شي چې په نړیواله سطحه د افغانستان دریځ او سیاست قوي کړي.

۳- ملګرو ملتونه هم باید د اسلامي امارت ځینې شرطونه ومني، په ځانګړي ډول د دوحې په ناسته کې د موازي جهتونو د نه راغوښتلو شرط، ځکه که موازي او مخالف جهتونه سره مخامخ شي، نو کېدای شي د ناستې اصلي پایله ترلاسه نشي.

## مأخذونه

[1] Kate Clark and Roxanna Shapour. A Ban, a Resolution and a Meeting: A look at the May 2023 meeting in Doha and the reactions to it, Afghanistan Analysts Network, 5 May 2023, Access link: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/international-engagement/a-ban-a-resolution-and-a-meeting-a-look-at-the-may-2023-meeting-in-doha-and-the-reactions-to-it/

[2] Kate Bateman and Andrew Watkins. What to Expect from the Doha Conference on Afghanistan, United States Institute of Peace, February 15, 2024, Access link: https://www.usip.org/publications/2024/02/what-expect-doha-conference-afghanistan

[3] Mitra Majeedy. SECOND DOHA MEETING ON AFGHANISTAN ENDS IN QATAR, Afghanistan Peace Campaign, February 19, 2024, Access link: https://afghanistanpeacecampaign.org/2024/02/19/second-doha-meeting-on-afghanistan-ends-in-qatar/

[4] Foreign Affairs Asks the Experts. Should the United States Normalize Relations With the Taliban? August 21, 2023, Access link: https://www.foreignaffairs.com/ask-the-experts/should-united-states-normalize-relations-taliban-afghanistan

[5] Ibid.

[6] United Nations Secretary General. Note to Correspondents: Under-Secretary-General for Political and Peacebuilding Affairs Rosemary DiCarlo’s Visit to Afghanistan, 21 May 2024, Access link: https://www.un.org/sg/en/content/sg/note-correspondents/2024-05-21/note-correspondents-under-secretary-general-for-political-and-peacebuilding-affairs-rosemary-dicarlo%E2%80%99s-visit-afghanistan

[7] Ayaz Gul. UN discusses 'Doha III' meeting agenda, coordination with Taliban, Global Security, June 07, 2024, Access link:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.globalsecurity.org/military/library/news/2024/06/mil-240607-voa03.htm

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000